DAILY
اراده

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۷۵۳

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ل

لسم کال - دویمه دوره، ۷۵۳ مه ګڼه، پر له پسې ۱۸۲۰ ګڼه، د ۱۳۸۹ ل ـ د وري ۲۵ مه - د چهارشنبې ورځ، د ۱۴۳۱ هـ ق د ربیع الثاني ۲۸ مه د ۲۰۱۰ د اپریل ۱٤ مه

PROPERTY OF ACKU

AFGHAN MEDIA RESOURCE CENTER A.M.R.C

په کندوز کې پوهنتون جوړېږي

د افغانستان ولسمشر حامد کرزي د وزیرانو په شورا کې د لوړو زده کړو له وزیرځخه وغوښتل، چې په کندوز کې دې دري موجوده پوهنځي په پوهنتون باندې واړوي. ولسمشر کرزي دغه پرېکړه کندوز ته تر سفر کولو وروسته وکړه، ځو د دغه ولایت زیات محصلان تحصیلي موسسو ته جذب شي.

د ازادي راډیو د رپوټ پربنسټ ویل کیږي، چې تېر کال له کندوز ځخه د لوړو زده کړو موسسو ته په کم شمېر فارغان جذب شوي وو او یو علت یې دا هم و، چې له دغه ولایت ځخه لوړو فارغانو په کانکور کې ګډون کړی و.

عملیات نظامی ناتو علیه طالبان متوقف می شود

یک روزنامهٔ بریتانیایی با پرداختن به موضوع عملیات ناتو در افغانستان، کشتار مردمان ملکی را توسط نظامیان خارجی عاملی دانست که می تواند، منجر به توقف عملیات نیروهای ایتلاف در این کشور شود.

به اساس این گزارش؛ روزنامهٔ تایمز با اشاره به حادثهٔ روز گذشته که در آن نظامیان امریکایی به سوی یک موتر بس حامل مسافران و کشته شدن ۴ نفر در این حادثه نوشت: این قبیل اقدامات به شدت سبب خشم مردم این کشور شده به طوری که این خشم می تواند، در نهایت منجر به توقف عملیات ناتو علیه طالبان در افغانستان شود.

این حادثه در حالی رخ داد که ناتو خود را برای آغاز عملیاتی بزرگ در جنوب افغانستان آماده می کند و با توجه به اینکه دولت و مردم افغانستان در گذشته نیز، به شدت به کشتار مردم کشورشان به دست نیروهای خارجی معترض بودند، حادثهٔ روز گذشته می تواند، حامد کرزی را متقاعد به این کار کند که از ناتو بخواهد، تا عملیات خود علیه طالبان را متوقف کند.

این در حالی است که پیش از حادثه روز گذشته نیز کرزی تهدید به متوقف کردن عملیات ناتو در قندهار کرده بود.

مردم افغانستان در این باره می گویند: عملیات ناتو هنوز در قندهار آغاز نشده، اما ص۳

کشورهای عربی منبع تمویل، بی چون چرای طالبان

طالبان کمکهای سخاوتمندانه یی را از کشورهای عربی حاشیهٔ خلیج فارس دریافت می کنند و این کشورها آخرین مودل تجهیزات نظامی از زرادخانه های اردوی خود را در اختیارشان قرار می دهد. گر چه تا کنون اسناد و مدارک دقیقی در این مورد ارایه نشده است، اما روزنامهٔ آلمانی اشپیگل دیروز در گزارشی با اشاره به خطراتی که این روزها نیروهای آلمان را در کندز تهدید می کند، نوشت: ستیزه ص۳

زنان افغان، قربانی اصلی حملات راکتی نیروهای ناتو و طالبان

در افغانستان رنج و دردی نیست که متوجه زنان افغان نباشد، اگر جامعهٔ افغانستان دامنگیر فقر، خشونت، تجاوز و دیگر پدیده های شوم است، این همه مشکلات بیش از همه به صورت مستقیم و یا غیرمستقیم بر پیکر نحیف زنان افغان می تازد. در گذشته ها، گزارش هایی داشتیم، از تشدید خودسوزی، خشونت و عدم دسترسی زنان افغان به تعلیم و صحت و کار، اما دیروز خبری به نشر رسید که گویای کشته شدن چهار زن افغان در اثر اصابت یک فیر هاوان بود. مسوولان ولایت کاپیسا می گویند که به اثر این مرمی درولسوالی السای، هفت تن کشته و زخمی شدند.

عبدالعلیم عیار سخنگوی والی کاپیسا دیروز با تایید این مطلب، افزود: این مرمی شب گذشته بر یک منزل مسکونی در درهٔ اشپی ولسوالی السای اصابت نمود و در نتیجه، سه زن کشته و چهارزن جراحت برداشتند.

وی افزود که به احتمال قوی، این مرمی توسط طالبان مسلح به منظور هدف قراردادن نیروهای ناتو و پولیس ملی بوده که بیشتر اوقات در مناطق این ولسوالی به گزمه می پردازند. ص۳

گشته شدن چهار پولیس در فاریاب

در اثر انفجار بم کنار سرک در ولایت فاریاب واقع درشمال غرب کشور، چهار تن از ماموران پولیس کشته شدند. بر پایهٔ اظهارات مقام های وزارت داخله، روز گذشته بر اثر انفجار یک بم کنار جاده در ولایت فاریاب چهار پولیس کشته و دو تن دیگر جراحت برداشتند.



بس همدا افغانان او د دوی همدا حال!!

۲

خواهان شفافیت بیشتر هستیم

سفارت ایتالیا در کابل خواستار شفافیت در روند تحقیق از اتباع ایتالیایی شده است.

سه روز پیش (۱۰ اپریل) سه تبعهٔ ایتالیایی به اتهام دست داشتن در طراحی حملات انتحاری در ولایت ناآرام هلمند، از سوی نیروهای افغان و بریتانیایی باز داشت شدند.

این سه تبعهٔ ایتالیایی به عنوان کارمندان صحی در یک شفاخانهٔ ایتالیایی در هلمند کار می کردند.

این سه نفر همراه با شش همکار افغان شان به اتهام تلاش برای ترور والی هلمند، بازداشت شدند.

نیروهای امنیتی از این شفاخانه در شهر لشکرگاه، مرکز هلمند، جلیقه هایی که در ص۳

آیا این کمک ها از گرداب فساد در امن خواهد بود؟

جاپان از جملهٔ کشورهایی است که به صورت دوامدار جهت بازسازی نهادها و زیربناهای افغانستان، کمک هایی قابل ذکری را در دسترس دولت افغانستان قرار داده است، اما اینکه این کمک ها، طوری که شاید و باید است، به مصرف خواهد رسید و یا همانند گذشته در گرداب فساد و اختلاس دود و خاکستر خواهد شد، این پرسشی است که برنامه ها و ظرفیت های آینده، دولت و جامعهٔ جهانی به آن پاسخ خواهد داد. به هر صورت، در تداوم همچون کمک های بشردوستانه و خیریه، کشور جاپان دیروز قراردادی را به ارزش ۶ میلیون دالر با وزارت صحت عامه به امضاء رساند.

به گزارش روزنامهٔ اراده، وزارت صحت عامه، قراردادی را به ارزش شش میلیون دالر با سازمان همکاری های ص۳

مشرانوجرګه:

په ایران کې د افغانانواعدام په کلکه غندو

دا کار د افغانستان او ایران د حکومتونو د پرېکړې پر خلاف دی

د مشرانو جرګې د سې شنبې د ورځې عمومي غونډه، چې په ایران کې د افغان زندانیانو او په اعدام محکومو کسانو لپاره ځانګړې شوې وه، د افغانانو اعدام په کلکه وغانده. د مشرانو جرګې غړي وایي، چې د ایران ولسمشر محمود احمدي نژاد افغانستان ته په خپل سفرکې له افغان چارواکو سره ژمنه کړې وه، چې هڅه به وکړي، ځو په ایران کې په اعدام د محکومو شوو افغانانو د اعدام مخه ونیسي. د افغانستان د مشرانو جرګې د شکایتونو د کمېسیون مشر ډاکتر زلمی زابلی وایي، چې د مشرانو جرګې د افغانستان د بهرنیو چارو وزیرخپلو راتلونکو غونډو ته راغوښتی، چې په ایران کې د افغان زندانیانو او په اعدام محکومو شوبو کسانو په اړه د خپلو اقداماتو ځخه مشرانو جرګه خبره کړي.

په ولسي جرګه کې د هرات ولایت ۳مخ

د لوی او بښونکي خدای (ج) په نامه

سرمقاله

په ایران کې د افغان بندي کډوالو مبهم برخلیک

د ایران اخوندي نظام که څه هم په ظاهر کې له افغان دولت او افغانانو سره د ډېر ځه لاپې او شاپې وهي، خو په واقعیت کې کوم نیتونه چې دوی د افغانستان او افغانانو پر وړاندې لري. تر ټولو خطرناک او کوټلي دي دا هسې هوایي خبرې نه دي، چې د افغان کډوالو او افغانانو پر وړاندې د ایران د اخوندي نظام مظالم او ناروا وې د حاضر یاددښت په لړ کې تاسو ته وړاندې کېږي. البته ټولو ته جوته ده، چې ایرانیانو نه یوازې په ایران، بلکې د افغانانو په خپل هېواد یانې افغانستان کې هم پر افغانانو ځمکه سره کړې او زمونږ په هېواد کې خپلو شومو موخو ته د رسېدو په خاطر، په هرو ناروا وو او قبایحو لاس پورې کوي او په دې ترڅ کې غواړي، چې د افغانانو په ځمکه کې د جګړو او بدمرغیو اور د تل لپاره تازه وساتي. په دې برخه کې د امریکا د لوی درستیز مایک مولن او په سیمه کې د امریکا د عمومي قوماندان پترایوس او د پنتاګون د نورو پوځي چارواکو خبرې د یادولو وړ دي، چې تېره اونۍ یې په افغانستان کې د ایران د سپاه پاسدارانو د ناروا وو لاسوهنو او مداخلو په اړه له امریکایي او نورو نړیوالو رسنیو سره د مرکو په ترڅ کې څرګندې ببلګې وړاندې کړې. دوی همدا راز جوته کړه، چې ایراني چارواکي هڅه کوي، چې د کندهار کېدونکي پوځي عملیات سبوتاژ او په ترڅ کې یې په افغانستان کې د امن او ټیکاو د ټینګېدو مخه ډب کړي. د سیمه ییزو باورې سرچینو د رپوټونو او معلوماتو له مخې، ایراني سپاه پاسدارانو دمګړۍ د افغانستان په سوبل لوېدیځو ولایتونو کې ښه فعال حضور لري، دوی په منظمه توګه په دې سیمه کې د افغان ځوانانو له ښوزلۍ او محرومیت څخه په ګټنې، هغوی ته په زاهدان کې پوځي روزنه ورکوي او بیا یې د ورانکارۍ لپاره افغانستان ته لېږي. په هر حال، دا د افغانانو پر وړاندې د ایراني واکدارانو د ناروا پلانونو یوه ببلګه وه، اما دا چې دوی په ایران کې له افغانانو سره څه وکړل او اوس څه کوي او همدا راز دوی په ماضي کې د افغانستان لپاره د یو ګاونډي هېواد په توګه څه ورډالۍ کړل، دا خبره هم ټولو ته ښکاره او لکه د لمر په شان روښانه ده. له بحثه به لرې نه خو، خپلې اصلي موضوع ته راګرځو، چې د افغانانو پر وړاندې د ایران د اخوندي نظام مظالم او وحشتونه دي. ورمه ورځ د افغانستان د ولسي جرګې یوه تن استازی د دې جرګې په عمومي غونډه کې، هغه سندونه او مدارک ټولو ته ښکاره کړل، چې په ایران کې یې د افغانانو له اعدام او بې رحمانه وژنې څخه پرده پورته کوله. دغه وکیل همدا راز څرګنده کړه، چې په دې وروستیو کې ۴۶ تنه افغانان په ایران کې په ظالمانه توګه اعدام شوي، چې د یو شمېر جسدونه افغانستان ته لېږدول شي او یو شمېر نور یې لاپاتې دي. دا چې مجلس په دې اړه، څه پرېکړه وکړه، دا موضوع هم ټولو ته معلومه ده، چې په دې اړه د مجلس پرېکړې ډېره تشریفاتي او سمبولیکه بڼه لرله. په دې توګه، افغانان په ځانګړې توګه هغه افغان کډوال چې نن سبا په ایران کې د رنج او درد شپې سبا کوي، په دې برخه کې د افغان دولت د بېرنیو اقداماتو په تمه دي، که افغان چارواکي په دې برخه کې کوټلي ګامونه و نه اخلي او د خپلو اتباعو د ژوند او مرګ پوښتنه ونه کړي، د افغانانو د اعدام او وژنې لړۍ به همداسې دوام پیدا کړي او په دې توګه به په ایران کې پر اعدام محکوم زیات شمېر افغان بندیان چې شمېر یې تر ۳۰۰۰ زرو اوړي، ټول د اخوندي نظام د استبداد او وحشت خوراک شي.

بس همدا افغانان او د دوی همدا حال!!

خپلواک - غورځنګ

(AFP)

په نړۍ کې هغه د چا په خبره داسې ټکه نه شته، چې پر افغانانو نه وي رانازله شوې. وژنې، غلاوې، شوکماري، د بهلابهلو مافیایي او جنایت کارو ډلو فعالیتونه او ناروا وې دلته غرمبهارې وهي. نورې ټولنیزې ناخوالې لکه فقر او بېوزلي، فساد او درغلي دلته خلک ټکور ټکور کړي. د نشه یي توکو قاچاق وړونکو ته خو خدای ورکړې، چې هم قاچاق کوي او هم د خلکو پر سرونو حکومت. بس همدا حال دی، چې نړۍ له نیمې پېړۍ راهیسې، د افغان ولس د نسلونو نسلونو ژوند یې تباه او برباد کړی دی.

څو ورځې د مخه، د رویټرز خبري اژانس په نړۍ کې د بېوزلۍ د کچې په اړه، هغه رپوټ خپور کړ، چې د ملګروملتونو له خوا برابر شوی و.

په دې خپاره شوي لېست کې نړۍ د نړۍ د ټولو هېوادونو نومونه ښکاري، چې زمونږ هېواد، بیا هم د فقر او بېوزلۍ د کچې له امله د ټولو هېوادونو په سر کې راځي. د دې رپوټ تر خپرېدا لا اونۍ نه وه تېره، چې دې ته ورته د ناامنۍ او بدامنۍ په اړه تېره اونۍ یوه بله نړیواله احصاییه خپره شوه، په دې احصاییه کې تر عراق وروسته، چې هلته هم د امریکا او نړیوالې ټولنې شتون ښه رنګ لري، افغانستان ته دویم نمبر ور ډالۍ کړی و. د دغه رپوټ تر خپرېدا لا ورځ پوره نه وه تېره، چې د ملګرو ملتونو د مخدره توکو پر وړاندې د مبارزې نړیوالې ادارې، په نړۍ کې د چرسو د کرکیلې او تولید په تړاو خپل کلنی رپوټ خپور کړ، له بدمرغه په دې رپوټ کې هم، افغانستان د یاد وړ ځای درلود، یانې په نړیواله کچه د چرسو د ستر تولیدونکو هېوادونو په ډله کې راته. دا په داسې حال کې ده، چې افغانستان د کوکنارو په تولید او کرکیلې کې لا دمخه تر ټولو لوړ مقام ګټلی او ساتلی و. اوس مې سم نه دي په یاد، خدای دې مې غاړه نه بندوي، خو مياشتې مخکې، د شفافیت د نړیوالې اداري له خوا د اداري فساد په اړه، یو رپوټ خپور شو، چې په هغه کې هم افغانستان ښې نمبرې وړې وې!؟ یانې په درېیمه کتګوري کې راته.

باید ووایو، چې که پخوا افغانستان داسې دربدر او له هره پلوه د بدمرغیو او ناخوالو په توپانونو کې ډوب ښکارېده، هغه مهال به خلکو ویل، چې افغانستان صاحب نه لري، په افغانستان کې شل پنځه ویشت کاله جګړه تېره شوې، څوک ورسره مرسته نه کوي، خو اوسمهال چې دلته له اتو کلونو را په دې خوا نړیواله ټولنه، ختیځ او لوېدیځ هېوادونه، ډلې ډلې، انجوګانې او خیریه موسسې ښه پراخ حضور لري او په همدې موده کې یې له افغان دولت سره د ښې کچې مادي، مالي، تسلیحاتي، پوځي مرستو په ګډون له هېڅ راز معنوي لورېنو څخه هم سپما نه ده کړې، خو له دې سره سره، ولې بیا هم د هرې بدې پدیدې په اړه چې په نړیواله کچه شمېرنې ترسره کېږي، افغانان په کې تر ټولو مخکې او د هرې ښې پدیدې په هکله چې رپوټونه نه خپرېږي، افغانان په کې لوېدلي او تر ټولو وروسته پاتې ښودل کېږي؟ واقعیت دا دی، چې دغه لړۍ د دې ښودنه کوي، کومو سترو پانګونو چې د تېرو اتو کلونو په بهیر کې د نړیوالو ټولنو له خوا دلته صورت مونډلی، ټول یې بېخایه او د افغان دولت د بې کفایتۍ او ناسم مدیریت له کبله هغه د چا په خبره د پوې روپۍ خای یې هم نه دی نیولی. افغانان اوس هم لکه د پخوا په شان د ناامنۍ، فساد، بېوزلۍ، بېکارۍ په ګډون د هرې ناخوالې له لاسه خورېږي.

پر دې بنسټ، ویلای شو، چې افغانستان د سالمې اداري د نه شتون له اړخه خپل شوی. دغه مسئله په ماضي کې هم څرګندې ببلګې لري. د تېرو اتو کلونو په بهیر کې له افغانستان سره نړدې ۴۳ میلیارډه ډالره مالي مرسته وشوه. امریکایانو، ناټو او شرقیانو ټول څه یې چې په وس پوره وو، له افغان دولت سره یې وکړل، د پیسو امبارونو یې راوړل، وسلې، موټرې او امکانات یې ورکړل، خو په افغانستان کې وضعیت اوس هم، نه یوازې ښه شوی نه دی، بلکې ورځ تر بلې لا هم د ناورینونو او کړکېچنو پر لوري درومي. نو نړیوالې ټولنې ته چې اوسمهال د افغانستان په کړکېچ ښکېل شوې، په کار ده، چې په لومړي ګام کې، په افغانستان کې د یوې سالمې اداري، داسې اداري چې له نړیوالې مافیا او جګړه مارو ډلو ټپلو له شتون څخه پاکه وي، غمه وخوري، او په دویم قدم، دوی باید پر دې پوه شي، چې سرزوري او سرتمبه ګي دلته ځای نه لري، نور د توپک په خوله خبره د دې پرځای چې هېواد د ټیکاو او سولې پر خوا بوځي، هم د نړیوالې ټولنې او هم د افغانانو لپاره به د ستر غمیزو په بیه تمامه شي او په پایله کې به یې د افغانستان حال همداسې وي، چې اوسمهال، د نړیوالې ټولنې له اته کلنې ستري مادي او معنوي پانګونې څخه وروسته دی.

نو اسامه چېرته دی؟!

د پاکستان صدراعظم یوسف رضا ګیلاني وایي، د القاعده شبکې مشر اوسامه بن لادن په پاکستان کې نه دی او که دی په پاکستان کې وای، نو له روانو پوځي عملیاتو څخه به نه وای ژغورل شوای. د ګیلاني داڅرګندونې د زیاترو امریکایي استخباراتي ادارو د باورخلاف دي، چې وایي اوسامه بن لادن د پاکستان په قبایلو سیمو کې چېرې خان پټ کړی دی.

ګیلاني، چې د اتومي وسلو د مصونیت په نړیواله غونډه کې د ګډون لپاره واشنګټن ته تللی، ورمه ورځ د امریکا له سي، ان، ان ټلویزیون سره په مرکه کې دغه راز وویل، که څه هم دی د اوسامه بن لادن د اوسېدو د ځای په اړه زیات معلومات نه لري، خو ډاډه دی، چې هغه په پاکستان کې نه دی.

ګیلاني په پاکستان منجمله سوات او جنوبي وزیرستان کې د سخت دریځو پر وړاندې د روانو پوځي عملیاتو یادونه وکړه او ویې ویل، چې زمونږ پوځي عملیات ډېر بریالي دي او که چېرې بن لادن دلته وای، نو دی به نیول شوی وای.

ګیلاني زیاته کړه، زه ان پر دې کې شک کوم، چې هغه به ژوندی وي که نه؟

ګیلاني له دې څرګندونو مخکې په واشنګټن کې په یوه بحث کې خبریالانو ته وویل، چې پاکستان به د وسلوالو طالبانو پرضد جګړه کې زړه نا زړه نه شي.

ګیلاني وویل، زه له طالبانو سره د خبرو پلوي نه کوم، ځکه هرکله چې مونږ له ښو او بدو طالبانو سره د خبرو مسله راپورته کړې، ما تل پردې خبرې ټینګار کړی، چې په دوی کې ښه او بد نه شته ټول وسلوال دي. د دوی هدف یوازې د سیستم ویجاړول دي.

د پاکستان صدراعظم وویل، زمونږ خلک پر دې پوه دي او هغو متعصبو سخت دریځو او تروریستانو ته به اجازه ورنه کړي، چې زمونږ د سوله ییز ژوند او بڼایسته فرهنګ استازیتوب وکړي.

ښاغلي ګیلاني دغه راز وویل، چې نورهغه افراطیان نه شي زغملای، چې د پاکستان له خاورې پر خپل ګاونډ هند د حملو لپاره کاراخلي.

ګیلاني زیاته کړه، د امریکا له ولسمشر بارک اوباما سره یې د یکشنبې په ورځ د لشکر طیبه سخت دریځې ډلې په اړه، چې د هند پرمهیې ښار د ۲۰۰۸ کال د بریدو مسوله ګڼل شوې، خبرې کړې دي.

د ازادي راډیو د رپوټ له مخې، د ډلې پرفعالیت په پاکستان کې بندیز لګول شوی دی، ګیلاني ووېل پاکستان تردې مخکې هم پر زیاتو افراطي ډلو بندیزونه وضع کړي دي او د هغوی بانکي حسابونه یې بند کړي.

د فرانسپرس اژانس په وینا پاکستان له ۱۹۹۶ نه تر ۲۰۰۱ کلونو پورې په افغانستان کې د طالبانو د واکمنۍ مهم نړیوال ملاتړی و، خو امریکایي چارواکو په وروستیو کې د طالبانو پرضد د دې هېواد د نوي دریځ هرکلی کړی دی.

عملیات نظامی ناتو علیه...

با این وجود، آنها هر روز مردم را می کشند. در همین رابطه روز گذشته مردم قندهار افغانستان در اعتراض به کشته شدن ۴ غیرنظامی دیگر در حملهٔ ناتو به یک موتر بس، در جاده های این شهر راهپیمایی کردند.

مردم خشمگین قندهار با راهپیمایی در جاده های قندهار بار دیگر کشتار غیرنظامیان به دست نیروهای ناتو را محکوم کردند.

بر همین اساس، فقط در هفتهٔ گذشته، ۲۹ تن از شهروندان افغانی به دست نیروهای ناتو کشته شدند و این در حالی است که در یک ماه اخیر عملیات گسترده یی در افغانستان انجام نشده و بر همین اساس، مردم این کشور معتقد اند که با آغاز عملیات ناتو در ولایت قندهار شمار کشته های شهروندان افغانی نیز افزایش می یابد. اما امریکا که تا کنون مصارف زیادی را در افغانستان کرده و تا کنون نتوانسته، موفقیت چشمگیری را در این کشور به دست بیاورد؛ هرگز راضی به متوقف کردن عملیات نظامی در افغانستان نیست از همین رو، وزیران امور خارجه و دفاع امریکا با هدف کاستن خشم رییس جمهور افغانستان از اقدامات اشتباه ناتو در کشورش، حامد کرزی را شریک قابل اعتماد برای ایالات متحده خواندند.

زنان افغان، قربانی اصلی...

اما طالبان تا حال مسوولیت این حمله را به عهده نگرفته اند. در همین حال، میرزا گل یکتن از باشنده گان محل می گوید که طی سال گذشته ده ها تن از ساکنان این ولسوالی در حملات سلاح ثقیل و سبک طالبان مسلح و نیروهای ناتو به قتل رسیده اند. وی اضافه نمود: "صبرمردم لبریزشده، ما از دولت می خواهیم که در تامین امنیت اقدامات جدی را روی دست بگیرد." این درحالی است که به تاریخ ۱۲ ماه حمل به اثراصابت یک راکت از سوی نیروهای ناتو در ولسوالی نجراب، دو زن و یک طفل به قتل رسیدند. همچنان طی درگیری بین طالبان مسلح و ناتو به تاریخ ۱۸حمل، پنج تن شامل دو طفل، یک زن و دو مرد در ولسوالی تگاب کشته و ۴ تن دیگر مجروح شدند. به گزارش روزنامهٔ اراده، تگاب، نجراب و السای، از جملهٔ ولسوالی های ناامن ولایت کاپیسا شمرده شده که مخالفان مسلح در برخی ساحات آن، فعالیت دارند.

ایا د اداري فساد پر...

ته د ناغیره کسانو مقررول وښودل.

نوموړی وایي، دوی هڅه کوي سړ کابل د اداري اصلاحاتو د کمپسیون په مرسته دوولس زره ملکي کارکوونکي د فساد پر وړاندې د مبارزې په برخه کې وروزي. د ازادي رادیو د رپوټ له مخې، په افغانستان کې داسې مهال اداري فساد پر وړاندې د مبارزې لپاره هڅې ګړندی کېږي، چې افغان ولسمشر د خپلې دویم ځل ولسمشریزې دورې د لوړې په مراسمو کې ژمنه وکړه، چې د افغان دولتي ادارو څخه به د اداري فساد ریښې وباسي.

خو کتونکي د اداري فساد پر وړاندې روانه مبارزه ګتوره نه بولي او وایي که چېرې دغه مبارزه په دې توګه دوام وکړي، نو و به نه توانېږي چې اداري فساد له منځه یوسي.

کشورهای عربی منبع تمویل...

جویانی از ازبکستان به همفکران خود در افغانستان کمک می کنند، آنها را برای عملیات های پرتلفات آموزش می دهند.

تندروانی که سربازان آلمانی را روز جمعه گذشته در کندز کشتند، مجهز به تجهیزاتی مدرن تر از تجهیزات مورد استفادهٔ طالبان بودند. این نشریهٔ در ادامه آورده است: اعضای جنبش اسلامی ازبکستان در حال فراهم کردن تسلیحات و آموزش برای جنگویان همقطار خود در افغانستان هستند، اما آلمان در تلاش است، تا به آنها پاسخی کافی و مناسب بدهد.

در بخش دیگری از این گزارش آمده است: روز یکشنبه حامد کرزی رییس جمهور افغانستان و مک کریستال فرماندهی نیروهای امریکایی در افغانستان در دیدار با رهبران قبایل در کندز، مناطق مورد استقرار نیروهای آلمانی را مناطق بحرانی توصیف کردند.

یک روزنامهٔ دیگر غربی نیز نوشت، این دشمن شبیه بسیاری دیگر از اعضای طالبان در سراسر کشور نیستند. اعضایی که عمدتاً از پشتون ها هستند و جنگجویان "چهاردره" و رهبران دینی از جمهوری ازبکستان و بعضاً تاجکستان از اقمار سابق شوروی از آنها حمایت می کنند و اینها برای افغان ها بهترین تسلیحات و آموزش های نظامی را فراهم می آورند، و تسلیحاتی که به دست آنها رسیده تنها می تواند، با ارتباطات خوب بین المللی از شبکه های مافیایی حصول شود. اشپیگل نوشت: طالبان محلی چنین پولی در اختیار ندارد، اما این پول و فراهم کردن آن برای نیروهای ازبک مشکل نیست؛ زیرا که آنها کمک های سخاوتمندانه یی را از کشورهای عربی حاشیهٔ خلیج فارس دریافت می کنند و این کشورها آخرین مودل تجهیزات نظامی از زرادخانه های ارتش را در اختیارشان قرار می دهد.

په ایران کې د افغانانو...

استازی ګل نبي وایي، چې له ایران څخه هرات ولایت ته د پنځه څلویښت هغو افغانانو جسدونه انتقال شوي، چې د ایران حکومت اعدام کړي دي. همدارنګه د افغان ولسمشر ویاند وحید عمر د سې شنبې په ورځ په کابل کې خبریالانو ته وویل، چې په دې اړه د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت په کابل کې د ایران سفیر احضار کړی دی.

بل خوا که څه هم د بهرنیو چارو وزارت، د ایران د سفیر د احضار او د مشرانو جرګې د غوښتنې په اړه له څه ویلو ډډه وکړه.

د ورکړل شوو معلوماتو له مخې په ایران کې شا او خوا ۵۶۰۰ تنه افغانان بندیان دي، چې له دې جملې څخه یې ۳۰۰۰ پر اعدام محکوم شوي دي.

د ازادي رادیو د رپوټ له مخې، د افغانستان ملي شورا وایي، که افغان حکومت په دې اړه جدي هڅې ونه کړي، نو امکان لري د ایران حکومت نور افغانان هم اعدام کړي.

خواهان شفافیت...

حملات انتحاری از آن استفاده می شود، مواد انفجاری و سلاح سبک پیدا کردند.

گلاب منگل، والی هلمند گفت که این مواد و اسلحه "با کمک کارمندان خارجی" به داخل شفاخانه منتقل شده بود.

مقام ها در هلمند گفته اند که این افراد با گروه طالبان در تماس بوده و برای کشتن والی هلمند، پول دریافت کرده بودند.

اما با آنکه نهاد خیریه یی صحی موسوم به - ایمرجنسی - که مرکز آن در روم، پایتخت ایتالیاست، بر بی گناهی کارمندان خود در هلمند تاکید کرده، دولت ایتالیا تلاش کرده، با این موضوع با احتیاط برخورد کند.

سفیر ایتالیا در کابل به تازه گی به ولایت هلمند رفته و با مقام های محلی در مورد چگونگی بازداشت اتباع کشورش گفتگو کرده است.

سفارت ایتالیا در کابل از افشای جزییات این سفر خودداری کرد، اما سخنگوی والی هلمند گفت که سفیر ایتالیا، از مسوولان محلی در هلمند تقاضا کرده، تا تحقیقات در این مورد را با "شفافیت" انجام دهند.

وزارت داخلهٔ کشور پیش تر اعلام کرده بود که تحقیقات در مورد اتباع ایتالیایی و همکاران افغان آنها، آغاز شده است.

تاکنون جزییاتی در مورد نتایج این تحقیقات منتشر نشده است.

وزیر خارجهٔ ایتالیا پیش از این گفته بود که کشورش در عین حالی که منتظر انتشار جزییات بیشتر این حادثه و دلایل بازداشت اتباع ایتالیایی است، اعلام می کند که با هر گونه "همکاری مستقیم و یا غیرمستقیم با تروریستان" مخالف است.

آیا این کمک ها از گرداب...

بین المللی جاپان (جایکا) به امضاء رساند.

"ثریا دلیل " سرپرست وزارت صحت عامه در مراسم امضای این قرارداد گفت: این پول قرار است، به منظور بهبود وضعیت صحی به مصرف برسد.

دلیل افزود: این مبلغ در پنج سال آینده در بخش های صحی، آموزش کارمندان وزارت صحت و خریداری تجهیزات طبی به مصرف برسد.

وی گفت: با آنکه وزارت صحت عامه در هشت سال گذشته تلاش زیادی در زمینهٔ صحت و تربیهٔ کارمندان آن انجام داده است، اما با این وجود، مرگ و میر مادران در هنگام زایمان در بالاترین سطح است.

جایکا، نمایندهٔ رسمی دولت جاپان در امور بازسازی و انکشاف افغانستان است و کمک های این کشور از طریق این سازمان به مصرف می رسد.

ملګري ملتونه باید د افغانستان اوعراق په برخه کې څېړنې وکړي؟

د ایران ولسمشر پرملګرو ملتونو غږ وکړ، چې د افغانستان اوعراق په برخه کې تحقیقات وکړي. د ایران ولسمشر محمود احمدي نژاد هم په افغانستان کې د ناټو د اعمالو په اړه د څېړنوغوښتنه کړې ده.

د ایران ولسمشر د ملګرو ملتونو پر عمومي منشي غږ کړی، چې په افغانستان او عراق دواړو کې د غربي پوځي فعالیتونو د اهدافو په اړه خپلواک تحقیقات وشي.

دا خبرې په داسې وخت کې کېږي، چې په واشنګټن کې د اتومي وسلو او اتومي انرژۍ د مصونیت لپاره غونډه هم ورمه ورځ پیل شوه.

د دې غونډې د بحث یوه عمده موضوع د ایران اتومي هڅې دي.

په لیک کې راغلي، چې امریکا او ناټو په سیمه کې له تروریزم سره په مبارزه کې له ناکامو میتودونو کار اخیستی دی، نو له دې امله اوس د ملګرو ملتونو په عمومي منشي پورې اړه لري، چې په دې برخه کې تحقیقات وکړي او نتایج یې ټولې نړۍ ته وړاندې کړي.

د ازادي رادیو د رپوټ له مخې، د ملګرو ملتونو یوه ویاند فرحان حق ویلي، چې د دې سازمان عمومي منشي بان کي مون ته لیک رسیدلی دی.

د پاکستان په لاریونونو کې لسګونه کسان مړه او ژوبل شول

د پاکستان د خیبر پښتونخوا په هزاره سیمه کې د لاریون کوونکو او پولیسو ترمنځ نښته وشوه، چې له امله یې پنځه مړه تنه او سل نور ژوبل شول.

لاریون کونکو د خیبر پښتونخوا د نامه پرضد شعارونه ورکول او په پولیسو یې کانې او اور لګېدونکي شیان وویشتل.

همدغه راز په ایبټ آباد کې هم د پولیسو او لاریون کوونکو په نښته کې ۴۵ کسان د پولیسو له خوا ژوبل شوي او پولیسو د لاریون کوونکو د تیت پرک کولو لپاره اوښکې بهوونکي ګازونه کارولي دي.

لاریون کوونکو د پولیسو یوه تهانه نیولې او د ایبټ آباد اصلي لار یې بنده کړې ده. د یادولو ده، د خیبر پښتونخوا غیر پښتانه، دا خومره ورځ ده چې د دغې صوبې د نامه په بدلېدو اعتراض کوي او وایي دا نوم یوازې د پښتنو یادونه کوي او د نورو قومونو نوم په کې نه شته. حتا ځینې خلک له خیبر پښتونخوا د بلې صوبې د بهلولو غوښتنه کوي. د دغه راپور له مخې ځینې پښتانه هم په دې نامه خپه دي او مظاهرې کوي او وایي په خیبر پښتونخوا د یوې وړې سیمې نومول د پښتنو له ستر قوم سره جفا ده، چې د ایران له پولو نیولې د افغانستان تر پولې پورې په پاکستان او افغانستان کې پراته دي.

دا نومول په دې مانا دي، چې نورې پښتون مېشتې سیمې د پښتونخوا برخې نه دي. ینې نظرخاوندان دغه نومونه یوه امریکایي او انګریزي دسیسه بولي، چې د سیمې د قومونو د وېش لامل کېږي. د خبریال وېپانې د رپوټ له مخې، له دې وړاندې ویل شوي وو، چې سرحد صوبې د نامه د بدلولو پر ضد به ستر لاریونونه وشي.

در آمد نخست وزیر روسیه اعلان شد

دارایی ولادیمیر پوتین صدراعظم روسیه که بسیاری او را مرد پولادین روزهای سخت پس از سقوط اتحاد جماهیر شوروی می‌دانند، دیروز در رسانه‌های داخلی و به تبع آن در روزنامه‌های بین‌المللی منتشر شد. ولادیمیر پوتین در این اعتراف تاکید کرده است که درآمدش در سال گذشتهٔ میلادی، بالغ بر ۳ میلیون و هشتاد هزار روبل بوده است. هر ساله در همین برههٔ زمانی، سیاستمداران روس، درآمد خود از ابتدا جنوری سال گذشته تا نخستین روز سال میلادی جدید را اعلام می‌کنند. به گزارش آسوشییتدپرس، از دیگر دارایی های پوتین می توان به یک قطعه زمین به مساحت ۱۵۰۰ متر مربع، یک باب آپارتمان به مساحت ۱۵۳ متر مربع و همچنین یک گاراژ ۱۸ مربعی اشاره کرد. صدراعظم روسیه همچنین صاحب دو عراده موتر والگا، یک عراده نیوا و یک عراده موتر اسکیف کاروان است.

اوباما در مقایسه با دیگران یک متفکر است

سارا معصومی

برنامهٔ صبح به خیر امریکا شبکهٔ ای. بی. سی روز گذشته میزبان دیمیتری مدودف رییس‌جمهور روسیه بود. مردی که قریب به دو سال است، بر مسند قدرت نشسته، اما بسیاری او را مرد شماره دو می‌دانند. رییس‌جمهوری که به اسم و رسم رییس دولت است، اما کم نیستند، کسانی که ادعا می‌کنند، پوتین، شاگرد خود را چند صباحی برای توجیه منع قانونی و قرار از عنوان دیکتاتوری بر قدرت نشانده، اما عملا از پشت پرده خود همه چیز را در کنترول دارد. عکس‌های شخصی مدودف و پوتین که در آن با هم به شکار می‌روند، یا عینک اسبکی هم را درست می‌کنند، هر از چندگاهی در صدر اخبار بین‌المللی قرار می‌گیرد. ولادیمیر پوتین صدراعظم است و دیمیتری مدودف رییس‌جمهور. هر چند این بازی سیاسی شاید در پشت پرده به گونهٔ دیگری باشد.

محور گفتگوی ای. بی. سی با مدودف هم بحث رابطهٔ شخصی او با پوتین و تقسیم قدرت با مرد پولادین روزهای سخت روسیه بود. مدودف درست مانند همیشه ته‌مایه‌یی از لبخند بر لب داشت و البته چند ثانیه پیش از پاسخ، سخنانش را مزه مزه می‌کرد. ویژه‌گی که بسیاری آن را خاص آقای رییس‌جمهور می‌دانند. مدودف با زیرکی تمام هم حضور پوتین در قدرت را به فال نیک گرفت و هم تاکید کرد که تصمیم‌های اصلی توسط شخص او در قامت رییس دولت و نه هیچ شخص دیگری اتخاذ می‌شود.

دیمیتری مدودف، تاکید کرد که به رغم اختلاف نظر در برخی مسایل او و ولادیمیر پوتین، دارای روابط حرفه‌یی و روابط شخصی خوبی هستند: تصمیم از سوی فردی اتخاذ می‌شود که توسط قانون برای انجام این کار برگزیده شده است. در زمینه‌های سیاست داخلی و خارجی، دفاعی و امنیتی تنها رییس جمهور است که تصمیم می‌گیرد، نه هیچ کس دیگر.

رییس جمهور روسیه در ادامه افزود: برخی اوقات از تقسیم مسوولیت‌ها با شخص دیگری به ویژه در مقاطع حساس استقبال می‌کنم. نمونهٔ این مسأله هم درگیری نظامی میان روسیه و گرجستان در سال ۲۰۰۸ است. نمی‌توانم بگویم تصامیم از جانب من اتخاذ نمی‌شد و یا مسوولیت را بر دوش هم قطارانم مانند پوتین یا دیگران گذاشته بودم. من شخصا مسوولیت را بر عهده گرفتم و از تصامیم خود پشیمان نیستم، من باید خود مهمترین و پیچیده‌ترین تصامیم را اتخاذ کنم.

از زمان روی کار آمدن مدودف در جامهٔ رییس جمهور روسیه، خبرنگاری نیست که مقابل مدودف بنشیند و از او در خصوص رابطهٔ شخصی‌اش با پوتین پرسش نکند. این‌بار مدودف به صراحت اعلام کرد که از پرسش‌های خبرنگاران مبنی بر رابطهٔ خود با پوتین به شدت ناراحت می‌شود. مدودف این قبیل پرسش‌ها را آزار دهنده خواند.

دیگر پرسش مطرح از مدودف در خصوص پیمان استارت دو بود که به تازه‌گی به امضاء رسیده است. رییس جمهور روسیه برای چندمین بار تاکید کرد که در صورت ایجاد عدم موازنه در اروپا به خاطر طرح‌های راکتی امریکا، وی از پیمان تازه به امضاء رسیده کاهش تسلیحات هسته‌یی خارج خواهد شد: اگر طرف دیگر شمار و قدرت سیستم دفاع راکتی خود را افزایش دهد، به طور حتمی سیستم دفاع راکتی تبدیل به بخشی از نیروهای هسته‌یی تهاجمی استراتیژیک می‌شود؛ زیرا این توان‌مندی ممانعت از اقدامات طرف دیگر را دارا خواهد بود. بنابراین، عدم موازنه اتفاق می‌افتد و مطمینا این مسأله، دلیل بازنگریِ توافقنامه مذکور است.

در میانهٔ تمامی بحث‌های سیاسی مدودف و مجری برنامه گپ و گفتگوهایی دوستانه داشتند. در بخشی از این سخنان مدودف به تحسین از اوباما پرداخت و گفت: اوباما در مقایسه با بسیاری از سیاستمداران امریکایی، متفکر است و همین امر؛ وجه تمایز او است. زمانی که مجری برنامه از مدودف پرسید: آیا شخص خاصی را در نظر دارید؟ او پاسخ داد: بلی. نام شخص خاصی در ذهن من است، اما نمی‌خواهم کسی را از خودم بیازارم. مجری برنامه پس از شنیدن این سخنان دقایقی را آنچنان با صدای بلند و از ته دل می‌خندید که مدودف نتوانست، به سخنان خود ادامه دهد.

ایا د اداري فساد پر وړاندې دا دول هڅې کافي دي؟!

د افغانستان د عامې روغتیا سرپرسته وزیره وایي، چې اداري فساد یو لوی ګواښ دی او باید د دې پدیدې په له منځه وړلو کې په ګډه مبارزه وشي.

ډاکټر ثریا دلیل، چې د سې شنبې په ورځ په کابل کې خبریالانو ته د روغتیایي سکټور په برخه کې د اداري فساد پر وړاندې د مبارزې لپاره د یوې خانګړې کومیټې د جوړېدو اعلان وکړ وویل، دغه کمیټه د عامې روغتیا وزارت په نوښت جوړه شوې او هدف یې دادی، چې په روغتیایي سکټور کې د اداري فساد ریښې وچې کړي:" کوم اقدامات چې کیږي هغه به د قانون پراساس وي او مورږ دا اقدامات د اړوند قانوني ادارو په مرسته یوځای تر سره کوو، په دې برخه کې مورږ د خلکو او د رسنیو مرسته هم غواړو، ځکه د اداري فساد پر وړاندې مبارزه یو سخت کار دی. مورږ د دې موضوع پر سختوالي او پیچلتیا باندې پوه یو او په دې برخه کې به ګام په ګام مخ ته خو."

مېرمن دلیل په داسې حال کې د اداري فساد پر وړاند د مبارزې ژمنه وکړه، چې په دې غونډه کې د اداري فساد پر وړاند د مبارزې د اداري مشر محمد یاسین عثماني هم ګډون کړی و.

ښاغلي عثماني وویل، اوس مهال په افغانستان کې اداري فساد لمن پراخه شوې، چې ډېرې فساد په دریېو مهمو سکټورونو، یانې افغان دولت، خصوصي سکټور او له افغانستان سره په نړیوالو مرسته کوونکو موسسو کې دی.

نومورې وویل، چې د ریفورم په نامه په دولتي ادارو کې اداري فساد ته لمن وهل کیږي، خو ښاغلي عثماني یو شمېر نړیواله مرسته کوونکي موسسې تورنې کړې، چې له افغانستان سره د خپلو مرستو ترونونه په انګریزي ژبه لاس لیک کوي، چې په دې ترونونو کې پیچلي انګریزي اصطلاحات کارول کیږي او کله چې په دې ترونونو کې کومه د فساد خبر را پورته شي، نو بیا افغاني لوري ملامت ګڼل کیږي:"تاسې، چې له بهرنیو کمپنیو سره ترونونه لاس لیک کوئ، هغه په بهرني ژبه دي، نو کله چې افغان مامور د دې ډول قرار دار پلي کوونکي وي او هغه یې پر محتوا باندې پوه نه شي، هغه څه کولای شي؟ ځارنوال هم راځي هغه مامور تر ګرېوانه نیسي، نو بهرني کمپنۍ هم باید د ترون پر مهال زمورږ ملي رسمي ژبې ومني او ترون پرې وکړي.

عثماني وویل: هر هغه ترون، چې نه غواړي د افغانستان په رسمي ژبو باندې قرارداد وکړي نه یې دي کوي

په بهرنۍ ژبه شویو قرار دادونو کې داسې کلیمې او جملې استعمال شوي، چې د ادعا او یا د جنجال پر مهال هېڅ کله افغاني لوری نه بریالی کیږي.

ښاغلي عثماني په افغانستان کې د اداري فساد د زیاتوالي لاملونه پر افغانستان باندې د پیچلو قوانینو پلي کول، مجرمینو ته د سزا نه ورکول او مهمو پوستونو ۳مخ

اراده ورځپاڼه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک :
قیمت یک شماره: (۵) فغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشراتی افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول : خادم احمد
موبایل :- ۰۵ ۶۲ ۵۹ ۰۷۰۰
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون : استاد مرتضی فرحتیار
موبایل :- ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیري
موبایل :- ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
گزارشگر: امان الله "ایمان" ۰۷۷۸۸۷۷۷۳۵
دیزاین : نبي "پیاوړی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
erada.daily@yahoo.com
آدرس : دهمزنګ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.
ایمیل: erada.daily@yahoo.com

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire: Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mujib Rahman Amiri
Designer: Nabi "Paiwarry"
Address: Behind Baree kout-cinema, first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com